United Nations
Educational, Scientific and
Cultural Organization

Organisation
des Nations Unies
pour l'éducation,
la science et la culture

# یونسکو

د ملګرو ملتو ښوونیزه، علمي او فرهنګي اداره

## مطبوعاتي اعلامیه

# کیزونا 'Kizuna' - د جاپان د ښوونځي ماشومانو ته د هیلې پیغام.

د ۲۰۱۱ کال د جون ۲




کیزونا 'Kizuna' یو جاپانی کلیمه ده، چې د پیوستون یا یووالي په مانا ده او یونسکو له دې جاپاني کلیمې څخه د نوي کمپاین لپاره استفاده کړې او په ټوله نړۍ کې د ښوونځیو له ماشومانو هیله کېږي، چې دکارت له لارې د جاپاني ماشومانو لپاره د هیلې پیغام ولیکي. د کمپاین موخه دا ده، چې د ښوونځیو هغه زرګونه جاپاني ماشومان د نړۍ له همزولو څخه د (تسلیت) او (هیلې) پیغام ترلاسه کړی، چې د هغو زلزلو او سونامي له کبله اغېزمن شول، چې د ۲۰۱۱ کال په مارچ کې د جاپان شمال ختیځې سیمې یې وځپلې.

په هغه بده ورځ د زلزلو او سونامي له کبله له ۷۰۰۰ څخه ډېر ښوونځي ړنګ او یا له منځه لاړل، چې ډېر ښوونځي د توهوکو په ساحلي سیمو کې ودان شوي وو. په بې شمېره ناورینونو کې یو دا ؤ چې د یو ښوونځي په سلو کې کابو ۷۰ زده کوونکي د سونامي له کبله ورک شول. د اړونده ښوونځي په سلو کې پاتې نور ۳۰ زده کوونکي د سیمې د نورو وران شویو ښوونځیو په څېر د روحي او رواني اړخه اغېزمن شول. ډېرو زده کوونکو خپل مور او پلار، ملګري، کورونه، ښوونځي او هر څه له لاسه ورکړل. ډېر نور په خیمو کې اوسېږي. د نړۍ د نورو ماشومانو لخوا دکارت له لارې د هیلې او امید څو کلیمې او یا تصویر ور استول له هغوی سره د ملګرۍ ښکارندویي کوي او هغوی ته دا احساس ورکوي، چې د نړۍ نورو ماشومانو هغوی نه دي هېر کړي.
د یونسکو عمومي مشره مېرمن ایرینا بوکوا وایي:" د کېزونا کلیمه د یووالي ډېر پیاوړی پیغام رسوي او هم د تېرو ۶۰ کلونو په اوږدو کې له جاپان سره زموږ د مرستې د پیاوړتیا څرګندویي کوي". نوموړي زیاته کړه: " موږ په دې باور یو، چې فزیکي او رواني بیا رغاونه باید له ښوونې او روزنې، ښوونځي، زده کوونکي او ښوونکي سره پیل شي".

په افغانستان کې د یونسکو دفتر خوشاله دی، چې د (هیلو) پیغامونه، تصویرونه او یا انځورونه ترلاسه کړي ترڅو یې د جاپان ښوونځیو هغو ماشومانو ته ولېږي، چې په دې هېواد کې د سونامي له کبله ځپل شوي دي.

**د (هیلې) کارتونو د استولو وروستۍ نېټه د ۲۰۱۱ کال د جولای ۲۵ نېټه ده:**

په پیغام کې باید لاندې ټکي شامل وي:

- د استوونکي نوم، جنس او پته
- دا په ګوته کول، چې آیا استوونکی زده کوونکی دی او که ښوونکی
- لیکلی پیغام او یا یو تصویر- رسم
- په پښتو، دري او انګلیسي ژبه ولیکل شي

پیغامونه باید په لاندې پته د یونسکو دفتر ته وسپارل شي:
647 شمېره کور، د عصمت مسلم کوڅه، ۱۰ ناحیه، نوی ښار، کابل- افغانستان

**د لا ډېرو معلوماتو لپاره په لاندې پته اړیکه ونیسی:**


محمد امین صادقی د یونسکو د عامه معلوماتو مسئول،کابل
a.sadiqi@unesco.org
+۹۳(۰) ۷۹۹۱۲۵۲۹۲
www.unesco.org/kabu